عمومي اسامبله
امنیت شورا

خپریدل: عمومي
۱۸ سپتمبر۲۰۲۳
اصل: انګلیسي

**عمومي اسامبله**
**اته اویایمه ناسته**
د اجنډا ۳۶ ماده
**د افغانستان وضعیت**

**د امنیت شورا**
**اته اویایم کال**

## د افغانستان وضعیت او پر نړیوالې سولې او امنیت یې اغیزې

## د سرمنشي راپور

### لومړی: پیژندنه

۱. دغه راپور د عمومي اسامبلې د ۶۸/۱۱ پرېکړه لیک او د امنیت شورا ۲۶۷۸ (۲۰۲۳) پرېکړه لیک په تعقیب په کومو کې چې له عمومي منشي غوښتل شوي و، چې په هرو دریو میاشتو کې د ځایي کچې په ګډون په افغانستان کې د وضعیت او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د ماموریت د تطبیق په اړه راپور ورکړي.

۲. د ۲۰۲۳ کال د جون د ۲۰ نېټې د پخواني راپور (A/77/914-S/2023/4453) له خپریدو راهیسې دغه راپور د سیاسي، بشري، او د بشري حقونو د هڅو په ګډون، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د فعالیتونو په اړه تازه معلومات وړاندې کوي.

### دویم: اړوند تحولات

۳. د راپور ورکونې د تېرې مودې په پرتله افغانستان د وسله والو جګړو په اندازه کې د پام وړ کمښت او په ټولیز ډول یو څه اقتصادي پرمختګ ښکارندوی و. له دې سره سره، د افغانانو په تېره بیا د ښځو او نجونو د اساسي حقونو محدودیت په دوامدار ډول دوام درلود. یوناما د تېر حکومت د چارواکو او امنیتي پرسونلو په ضد د بشري حقونو د سرغړونو په ګډون د بشري حقونو د سرغړونو او تیریو د باوري ادعاوو ترلاسه کول جاري ساتلي. برحاله چارواکو د خپل مشر د فرمانونو د تطبیق د ډاډمنولو او د دیني زده کړو د پراخولو په پار لا زیات ګامونه پورته کړي. له شپږم ټولګي پورته د ښځو او نجونو لپاره ښوونیز فرصتونه له مدرسو بهر نږدې په بشپړ ډول د لاس رسي وړ نه دي. برحاله چارواکو د ملګرو ملتونو لپاره پر ښځینه افغان کارمندانو د سختو محدودیتونو وضع کول جاري ساتلي چې له امله یې د سازمان چارې ټکنۍ شوي. د هغو بریدونو شمېر چې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي یا یې د نومړې ډلې له خوا ادعا شوې، راکم شوی، دغه راز وسله والې نښتې او د لاس جوړ چاودیدونکو وسیلو چاودنې هم راکمې شوي. د بشري اړتیاوو له نا پیشبیني شویو کچو سره د بشري مرستو په تمویل کې کموالی له پخوا څخه سخت بشري وضعیت لا پسې ناوړه کړی. د راپور تر لیکنې پورې، د بشري مرستو لپاره د هیواد بیا کتل شوې غوښتنه یوازې ۲۷ سلنه تمویل شوې.

### الف. سیاسي تحولات

۴. په واک کې د دوه کلونو په تېرېدو سره، د طالبانو برحاله اداره په ثابت ډول پر هیواد کنټرول لري او هڅې د هغه څه پر جوړولو متمرکزې وي کوم څه چې د "اسلامي نظام" په نامه یادیږي. په داسې حال کې چې له کندهار څخه د طالبانو مشر، هبة الله اخندزاده ته د منسوب شویو فرمانونو صادریدو دوام درلود، اداري پرېکړې، په ځانګړې ډول د اقتصادي موضوعاتو په اړه په کابل کې ترسره کېدې کوم چې همدارنګه د ډیپلوماتیکو او امنیتي چارو مرکز ګڼل کېږي. وخت نا وخت، برحاله کابینه یا یې یوه برخه کندهار ته غوښتل شوې چېرې چې ویل کېږي اداري پرېکړې د طالبانو د مشر له خوا ارزول شوې. له یوناما سره په ناستو کې، برحاله چارواکو د محافظه کارې اجنډا تر شا سیاسي یووالی ساتلی پرته له دې چې په پام کې ونیول شي چې دغه پرېکړې د افغانستان په د ننه یا بهر څرنګه انګیرل شوي.

۵. د طالبانو مشر د لوړ پوړو برحاله چارواکو ګمارنې جاري ساتلي. د راپور ورکونې په موده کې په ملي کچه په دغو ګمارنو کې د جون پر ۳ نېټه د مالیې د برحاله وزیر په څېر د مالیې د پخواني مرستیال وزیر محمد ناصر اخند او په مالیې وزارت کې د دوه مرستیال وزیرانو، او د ښوونې، کورنیو چارو او امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارتونو کې د یوه یوه مرستیال وزیر د ټاکنې په ګډون د پنځو برحاله مرستیال وزیرانو ګمارنې شاملې دي. په ځایي کچه ګمارنو کې د پنځو برحاله والیانو، د نهو مرستیال والیانو، د دریو ولایتي ښاروالانو ګمارنې شاملې دي. د ولسوالۍ په کچه او دغه راز د برحاله وزارتونو د ریاست په کچه د لږ تر لږه ۶۰ افرادو ادلون بدلون هم ترسره شوی. د طالبانو مشر د جون پر ۱۹نېټه عبد الرؤف الاطمنان د افغانستان د برحاله سترې محکمې د مفتي په حیث وګماره.

۶. د مۍ پر ۲۳ او د جولای پر ۱۱ نېټه، برحاله عدلیې وزارت واک ته د طالبانو له بېرته راتګ راهیسې درېیمه او څلورمه رسمي جریدې خپرې کړې. په درېیمې هغې کې ۶۹ فرمانونه، حکمونه او لارښوونې شاملې دي چې د طالبانو د مشر له خوا د ۲۰۱۶ او ۲۰۲۳ کلونو ترمنځ صادر شوې، چې ټول هغه یې تر چاپ مخکې نافذ وو. څلورمه شمېره جریده پنځه فرمانونه لري چې د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت د لوي ریاست په ګډون د پنځو برحاله ادارو دندې او تنظیمات وضع کوي، او د برحاله تقنیني اسنادو د نهایي ارزونې د خپلواک کمیسیون غړیتوب مشخصوي.

۷. د ۲۰۲۳ کال په مارچ کې د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت د لوي ریاست د جوړولو په تړاو، د نوموړي ریاست دندې او مسوولیتونه هغه د یوه خپلواک ارګان او دا چې پر نورو برحاله ادارو واک او صلاحیت لري، په ډاګه کوي. برحاله دغه ریاست، کوم چې په مستقیم ډول د طالبانو مشر ته راپور ورکوي، له ۶۰۰۰ څخه زیات کارمندان لري او په برحاله محکمو کې او نورو موضوعاتو په اړه لکه له بهر څخه د بندیانو د لېږد مذاکرات، د فرمانونو، حکمونو پر تطبیق د نظارت صلاحیت لري.

۸. د جولای پر ۱۷ نېټه، برحاله رئیس الوزراء محمد حسن اخند په کندهار کې د ناروغۍ د درې میاشتنۍ رخصتۍ له تېرولو روروسته کابل ته راستون شو. تر راستنېدو وروسته، هغه په کومه دولتي ناسته یا نورو مراسمو کې ګډون نه دی کړی. په داسې حال کې چې د رئیس الوزراء د سرپرست او تر هغې وروسته د رئیس الوزراء د مرستیال په څېر عبد الکبیر په پراخه کچه د ټولنې له استازو او برحاله چارواکو سره شا و خوا ۶۰ مختلفې ناستې او نورې چارې ترسره کړې.

۹. د اساسي قانون او حقوقي اصلاحاتو د موضوعاتو په تړاو په یوه مرکه کې چې د اګست پر ۱۵ نېټه ترسره شوې، د رئیس الوزراء مرستیال د راپورونو له مخې د نوي اساسي قانون د تسوید د پروسې یادونه وکړه، چې دغه موضوع په جلا ډول د برحاله عدلیې وزیر عبد الحکیم شرعي له خوا هم یاده شوې. د اګست پر ۱۷ نېټه د عدلیې وزارت سیاسي ګوندونه منحل اعلان کړل، ځکه چې شتون یې له شریعت څخه د برحاله چارواکو له تفسیر سره په مغایرت کې و.

۱۰. په امنیت اړوند ګمارنو کې د ولایتونو لپاره د برحاله ۵ نوو امنیه قوماندانانو، د ۴ نویو قول اردو قوماندانانو او د ولسوالیو لپاره د ۱۲ نویو امنیه قوماندانانو ټاکنې شاملې دي. د کورنیو چارو او دفاع برحاله وزارتونو نوي منصبونه رامنځ ته

کړي څو هغه طالب جنګیالي په کې ځای پر ځای شي څوک چې غواړي له برحاله امنیتي ځواکونو سره یو ځای شي. د دغو جنګیالیو د ثبت پروسه په یو شمېر ولایتونو کې پیل شوې، د جنګیالیو د ثبت بهیر په جلال اباد کې د جون پر ۱۹ نېټه پیل شوی. د اګست تر ۱۸ نېټې پورې، د راپورونو له مخې برحاله د کورنیو چارو په وزارت کې ۱۰۷۰ نوي منصبونه رامنځ ته شوي.

۱۱. د راپور ورکونې موده برحاله د پوهنې په وزارت کې د ښوونکي د رزونې د مرکزونو په ګډون د ریاستونو د منحل کیدو او د بیا تشکیلیدو شاهده وه، چې شا و خوا ۴۰۰۰ ښوونکي پې اغیزمن کړي. د جولای پر ۱۳ نېټه، برحاله د پوهنې وزارت اعلان وکړ چې د ښوونکي روزنې د مرکزونو کارمندان به د نوموړي وزارت په نورو ریاستونو کې له سره وګمارل شي. برحاله چارواکي په ښکاره ډول د مدرسو د اهمیت په اړه ویناوې کړي. د جولای پر ۲ نېټه، د رئیس الوزراء مرستیال کبیر په کابل کې د شخصي مدرسو له مشرانو سره ولیدل او د راپورونو له مخې هغوی ته یې وویل چې برحاله اداره به د دوی د ملاتړ لپاره ځانګړې بودجه تخصیص کړي. د جون پر ۴ نېټه، د پوهنې برحاله وزیر حبیب الله آغا، او برحاله د پوهنې د ټولو ۳۴ ولایتونو ریاستونو استازو په کندهار کې سره لیدلي څو د پوهنې په اړه خبرې اترې وکړي. له یوناما سره په تعاملاتو کې، په برحاله اداره کې لوړ پوړو چارواکو د نجونو د زده کړو په اړه خپل پیغام د حوصلې په غوښتنې سره جاري ساتلی څو یوه حل لار پیدا شي او پر دې یې ټینګار کاوه چې د هغوی په اند د نجونو پر زده کړو بندیز د توجیه وړ دی. نړیوالې ټولنې ته یو ثابت پیغام دا دی چې د نجونو زده کړې یوه داخلي موضوع ده او د بهرنیانو تر اغیز لاندې به رانشي.

۱۲. برحاله چارواکو یوناما ته خپل هغه پلانونه په ډاګه کړي چې د مدرسو شمېر د پام وړ زیات کړي. د اګست پر ۱۵ نېټه، د پوهنې برحاله وزیر په ډاګه کړه چې دمګړۍ په افغانستان کې شا و خوا ۱۵۰۰۰ مدرسې موجودې دي چې ټولې د ملي بودجې له لارې تمویلیږي، چې د راپورونو له مخې هغه تعلیمي نصاب کاروي چې پر دیني مضامینو متمرکز دی کم شمېر هغه یې د ساینسي علومو په اړه دي. د جون پر ۲۳ نېټه، برحاله وزیر اعلان وکړ چې د طالبانو مشر د مدرسو د ۱۰۰۰۰۰ استادانو استخدام تایید کړ. د دولتي ښوونځیو برعکس، نجونې کولی شي مدرسو ته لاړې شي، په زیاتره مواردو کې له شپږم ټولګي پورته. د یوناما له خوا له ساحې څخه لومړني راپورونه په مدرسو کې د نجونو د شمولیت د زیاتېدو ښکارندوي دي.

۱۳. د جولای پر ۲ نېټه، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت له خوا د جون ۲۶ نېټې یو مکتوب خپور شو چې د یوې میاشتې په د ننه کې یې د ښځو پر سنګارتونونو د طالبانو د مشر د بندیز حکم ابلاغوه. دغه حکم په شا و خوا ۱۲۰۰۰ کار و بارونو کې شا و خوا ۶۰۰۰۰ ښځې اغیزمنې کړې. د جولای پر ۱۹ نېټه په کابل کې، برحاله امنیتي ځواکونو د سنګارتونونو د څښتانانو او کارمندانو د شا و خوا ۲۵ لاریون کوونکو د تیتولو په پار اوبه وپاشلې او هوایي ډزې وکړې. څلور ښځینه لاریون کوونکې ونیول شوې چې د راپورونو له مخې بیا پر هماغې ورځ خوشې شوې. د جولای تر ۲۵ نېټې پورې په افغانستان کې زیاتره سنګارتونونه تړل شوي.

۱۴. د اګست پر ۱۵ نېټه، برحاله چارواکو د طالبانو له خوا بېرته د واک تر لاسه کولو دوه کلنۍ لمانځلو لپاره مختلف مراسم تنظیم کړي وو. د برحاله چارواکو ویناوې د یووالي، خلکو ته د خدمت کولو، زده کړو په ګډون پر ټولنیز-سیاسي پیغام رسونې متمرکزې وې، او کورنیو چارو ته د درناوي په شرط یې له نړیوالې ټولنې سره د دوامدار تعامل غوښتنه کوله. په کندهار کې نظامي رسم ګذشت او په مختلفو ولایتونو کې لمانځنې ترسره شوې. د اګست پر ۱۹ نېټه، ګڼ شمېر برحاله چارواکو په یوه ناسته کې چې په برحاله دفاع وزارت کې یې د هیواد خپلواکي لمانځله، ګډون وکړ؛ په زیاترو وینااوو کې د هیواد د خپلواکۍ او یووالي په ساتلو سره له برحاله ادارې سره د نړیوالې ټولنې د پراخ تعامل غوښتنه وشوه.

۱۵. د جون پر ۲ نېټه، د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د ۲۰۲۳ کال د مارچ له ۲۱ څخه د ۲۰۲۴ کال د مارچ تر ۲۰ نېټې پورې د ۱۴۰۲ مالي کال لپاره د برحاله کابینې له خوا د ملي بودجې تصویب تایید کړ. په دې اړه له عامو خلکو سره نور تفصیلات نه دي شریک شوي. د جولای پر ۲۲ نېټه، برحاله ادارو ملت ته د حساب ورکونې ناستې پیل کړې په کومو کې چې ادارو د خپلو کلنیو لاسته راوړنو او د راتلونکي کال لپاره د لومړیتوبونو په اړه راپور ورکړ. د اګست تر ۱۷ پورې، ۳۲ ادارو په دغې پروسه کې

ګډون وکړ. برحاله چارواکو د ښځینه ملکي کارمندانو په ګډون د ملکي کارمندانو د معاشاتو تادیه کول جاري ساتلي. د راپورونو له مخې دولتي متقاعدینو په تیریو دوه کلونو کې خپل تقاعد نه دی ترلاسه کړی.

۱۶. مدافع وکیلان لا اوس هم د خپلو مسلکي چارو په ترسره کولو کې له ننګونو سره مخ دي. د مۍ پر ۲۰ نېټه، په برحاله عدلیې وزارت کې د مدافع وکیلانو ریاست په کابل کې د شپږو مدافع وکیلانو دفترونه د ناقانون فعالیت په تور وتړل.

۱۷. د مۍ له ۲۵ د اګست تر ۱۷ نېټې پورې، یوناما د ځایي چارواکو، مذهبي مشرانو، د مدني ټولنې سازمانونو، رسنیو، ځوانانو او د ټولنې د نورو غړو ترمنځ د بشري حقونو د اصولو او خدمتونو وړاندې کولو په ګډون د حکومتولۍ اړوند موضوعاتو په اړه په ۱۸ ولایتونو کې د پوهاوي ټولټال ۳۴ ناستې تسهیل کړې. یوناما دغه راز ۱۰۱ ناستې چې د ځایي برحاله چارواکو له خوا له ټولنو سره د مختلفو موضوعاتو لکه ځایي اړتیاوو، د قبیلو ترمنځ د شخړو په اړه ترسره شوې، څارلې. د مدني ټولنې سازمانونو د راتنګېدونکې مدني فضا او د مدني ټولنې د سازمانونو، رسنیو او ښځینه کارمندانو د تهدید په اړه خپلې اندېښنې په ډاګه کړې.

## ب. امنیت

۱۸. د مۍ د ۲۰ او جولای د ۳۱ نېټې ترمنځ، ملګرو ملتونو ۱۲۵۹ امنیتي پېښې ثبت کړې، چې په ۲۰۲۲ کال کې د عین مودې پرمهال د ثبت شویو ۱۲۵۵ پېښو په پرتله یو څه زیاتوالی په ډاګه کوي. د لاس رسي وړ ارقام په ډاګه کوي چې وسله والې نښتې له ۱۰۴ څخه ۳۴ پېښو ته په راټیټیدو سره ۶۷ سلنه راکمې شوي؛ ځانمرګي بریدونه له یوه څخه دوو ته لوړ شوي؛ د لاس جوړ چاودیدونکو وسیلو چاودنې له ۵۹ څخه ۱۱ پېښو ته په راټیټیدو سره ۸۱ سلنه راکمې شوي؛ نیونې له ۳۷۵ څخه ۳۹۲ ته په لوړېدو سره ۴.۵ سلنه زیاتې شوي؛ او وژنې له ۵۹ څخه ۳۶ ته په ټیټیدو سره ۳۵ سلنه راکمې شوي. د جرم کچه لا اوس هم لوړه ده چې شوکې، غلاوې او وژنې تر ټولو زیاتې ثبت شوې پېښې ګڼل کېږي. د ځمکو، څړځایونو او اوبو د ویش پر سر شا و خوا ۲۷ شخړې ثبت شوې. شمال-ختیځې، لویدیځې او ختیځې سیمې د ټولو ثبت شویو پېښو ۴۸ سلنه جوړوي، چې کندز، هرات، او تخار تر ټولو زیات اغیزمن شوي ولایتونه ګڼل کېږي.

۱۹. ملګرو ملتونو په ۲۰۲۲ کال کې د ورته مودې پرمهال په اتو ولایتونو کې د ۳۴ بریدونو په پرتله د مۍ د ۲۰ او جولای د ۳۱ نېټې ترمنځ په دریو ولایتونو کې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې له خوا ۵ بریدونه ثبت کړي. نوموړې ډلې د جون پر ۶ نېټه د هغه موټر بم برید چې د بدخشان ولایت مرستیال والي نثار احمد احمدي یې په نښه کړ او و واژه؛ او د جون پر ۸ نېټه د فاتحې په مراسمو کې هغه ځانمرګي برید مسوولیت پر غاړه واخیست کوم چې د بغلان ولایت د امنیې قوماندان سیف الله صمیم په ګډون ۱۳ کسان (چې ۹ هغه یې ولسي وګړي وو) ووژل او ۵۲ نور (چې ۳۷ هغه ولسي وګړي وو) ژوبل کړل. په جولای میاشت کې، برحاله امنیتي ځواکونه ادعا وکړه چې د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې پر ضد یې په کابل او نیمروز ولایت کې بریالي عملیات ترسره کړي.

۲۰. د افغانستان او پاکستان ترمنځ د پولې په اړدو درې پېښې او له تاجکستان سره پر پوله یوه پېښه رامنځ ته شوې. له ایران اسلامي جمهوریت سره د هلمند سند او حقآبې پر سر شخړو دوام درلود چې دواړو لورو د پولې په اوږدو کې خپل امنیتي حضور زیات کړی. د جولای پر ۳۱ نېټه، د ایران اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزیر په ډاګه کړه چې د افغانستان له برحاله چارواکو سره د هلمند سند د اوبو د کارونې پر سر یوه ابتدائي توافق ته رسیدلي، د اګست پر ۱۳ نېټه د ایراني پلاوي له خوا د یوې لیدنې په ګډون څو د هلمند سند د اوبو جریان و ارزوي.

۲۱. په افغانستان کې د تحریک طالبان پاکستان ادعا شوي شتون له پاکستان سره د کړکیچ د دوام لامل شوی. برحاله لوړ پوړو چارواکو په ښکاره په افغانستان کې د تروریستان شتون رد کړی په داسې حال کې چې تحریک طالبان پاکستان د یوې بیانې په خپرولو سره په ډاګه کړې چې له پاکستان سره په خپله جګړه کې د افغانستان ملاتړ ته اړتیا نه لري. د جون پر ۱۲ نېټه په بلوچستان، پاکستان کې له دوه جلا جلا بریدونو وروسته کوم چې د ۱۲ پاکستان نظامې پرسونلو د وژنې لامل شول، د افغانستان لپاره د پاکستان ځانګړي استازي آصف دراني د جولای له ۱۹ تر ۲۱ پورې له کابل څخه لیدنه ترسره کړه چې د امنیتي اندېښنو په اړه خبرې اترې ترسره کړي. د اګست پر ۲ نېټه، د پاکستان بهرنیو چارو وزارت په ښکاره د مختلفو تروریستي ډلو له خوا په پاکستان کې د بریدونو د طرح کولو لپاره د افغان خاورې کارول وغندل، او ادعا یې کوله چې له کندهار څخه افراد په بلوچستان کې د جولای د ۱۲ نېټې بریدونو مسؤول وو. د اګست پر ۷ نېټه، د پاکستان د پوځ مشر جنرال سید عاصم منیر تور پورې کړ چې افغان اتباع د پاکستان د خیبر پوښتونخوا په باجوړ سیمه کې پر یوې سیاسي غونډې د جولای د ۳۰ نېټې په برید کې لاس درلود. د اګست پر ۵ نېټه، د افغانستان برحاله دفاع وزیر محمد یعقوب عمر په ښکاره اعلان وکړ چې له افغانستان څخه بهر "جهاد" حرام دی. د اګست پر ۸ نېټه، د طالبانو برحاله ویاند هغه تورونه رد کړل چې افغان خاور د پاکستان پر ضد بریدونو په پار کارول شوې او د دې په یادونې سره چې باید خپل امنیت پخپله برابر کړي، د ګډ حل غوښتنه وکړه.

۲۲. د راپور ورکولو په موده کې د برحاله امنیتي ځواکو پر ضد و وسله والو مخالفینو بریدونو دوام درلود، چې د ملي مقاومت جبهې، د افغانستان د آزادۍ خوځښت، او د افغانستان د آزادۍ جبهې له خوا په ۱۲ ولایتونه کې د ۴۲ بریدونو ادعا شوې. په ځانګړي ډول، د ملي مقاومت جبهې په تخار ولایت کې د اګست پر ۱۵ د لاس جوړ مقناطسي چاودیدونکې آلې تر چاودنې وروسته د څلورو طالبانو د وژلو ادعا کړې، او د افغانستان د آزادۍ خوځښت د اګست پر ۸ نېټه د بدخشان ولایت په فیض اباد پر هوایي ډګر د هوانونو د برید ادعا کړې.

۲۳. د سپکو او کوچنیو وسلو په تړاو، یوناما د جون له ۱۳ تر ۱۵ نېټې پورې د څو-کلن پلان او خطر راکمونې د چوکاټ په اړه له مختلفو شریکبانو سره، له نشه یې توکو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې د دفتر د تروریزم د مخنیوي له څانګې، د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزارت د نشه یې توکو او قانون د تنفیذ د نړیوالو اړیکو له بیرو او د پاکستان له تروریزم سره د مبارزې له ملي ادارې سره؛ په کابل کې د جون پر ۳ نېټه له برحاله دفاع وزارت او د ماین پاکۍ له ریاست سره؛ د جولای پر ۱۲ نېټه په تاشکند کې له نشه یې توکو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې له دفتر سره؛ او د جولای د ۴ او ۲۱ نېټې ترمنځ د مرکزي اسیا هیوادونو له چارواکو سره تعامل کړی.

۲۴. برحاله چارواکو د وسلو د نیونې او د وسلو د کنټرول په موخه د تدابیرو د ترسره کولو په اړه راپور ورکول جاري ساتلي. یوناما د راپور ورکونې د تېرې مودې پرمهال په ۳۰ ولایتونو کې د ۱۰۱ نیونو په پرتله د فبرورۍ له ۱ څخه د مۍ تر ۲۰ نېټې پورې د راپور ورکونې په دغې موده کې په ۱۵ ولایتونو کې د وسلو ۳۶ نیونې ثبتې کړې. د جولای پر ۲۲ نېټه، برحاله د کورنیو چارو وزارت یو حکم خپور کړ چې د وسلو له ټولو سوداګرو د فعالیت لپاره د جواز ترلاسه کولو غوښتنه کوي، ټول هغه ملکي وګړي چې اتوماتیک ټوپک لري، یا دې جواز ترلاسه کړي یا دې خپلې وسلې تسلیم کړي، او د اتوماتیک ټوپکونو واردول یې منع کړي.

۲۵. د مۍ د ۲۰ او د جولای د ۳۱ نېټې ترمنځ، ملګرو ملتونو د تهدید ۳۱ داسې پېښې مستند کړي چې په مستقیم ډول د دغه سازمان کارمندان اغیزمنوي، چې د ۲۰۲۲ کال په ورته موده کې د ثبت شویو پېښو په پرتله ۴۱ سلنه کموالي په ډاګه کوي. په دغو پېښو کې د تهدید ۱۵ قضیې، ۴ جرمي پېښې، ۴ نیونې، او ۱۱ پېښې شاملې وي چې کمپاونډونه، دفترونه او ملکیتونه اغیزمنوي. د جون پر ۱۳ نېټه په کاپیسا او پنجشیر ولایتونو کې د ملګرو ملتونو موټرونه د سړک له لارې د سفر پرمهال په دوه جلا جلا چک پواینټونو کې درول شوي چېرې چې برحاله امنیتي ځواکونو د کارمندانو د ملګرو ملتونو پېژندپاڼو عکسونه اخیستي. د جولای پر ۱۸ نېټه، په هرات کې د ملګرو ملتونو د کمپاونډ په دروازه کې د برحاله محافظتي خدمتونو وسله والو ساتونکو د

امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د هغو دوه کارمندانو مخه نیولې چې هڅه یې کوله د ملګرو ملتونو د داخلي ښځینه کارمندانو عمله تلاشي کړي.

### ج. سیمه ییزه همکاري

۲۶. سیمه ییزو او نورو هیوادونو او سازمانونو د ټولشموله حکومتولۍ، بشري حقونو، ښځو حقونو، له تروریزم سره مبارزې، د پولې د امنیت، له نشه یي توکو سره مبارزې او اقتصادي همکاریو په اړه له مباحثو سره د افغانستان په اړه دوه اړخیز او ګڼ اړخیز تعامل جاري ساتلی. د مې پر ۲۵ او ۲۶ نېټه، د اروپایي اتحادیې او د افغانستان لپاره د مرکزي اسیا ځانګړو استازو څلورمه ناسته د مرکزي اسیا هیوادونو، اروپايي اتحادې او یوناما د استازو په ګډون په عشق آباد کې ترسره شوه. استازو یوه ګډه اعلامیه خپره کړه چې له طالبانو یې غوښتنه کوله چې د ښځو او نجونو د زده کړو، کار او په عامه ژوند کې د ګډون پر حقونو رامنځ ته شوي ټول بندیزونه لرې کړي، او یو ټولشموله حکومت رامنځ ته کړي. ګاونډیو هیوادونو همدارنګه د قوش تیپې کانال په اړه کوم چې برحاله چارواکي نیت لري چې له آمو سیند څخه اوبه را وګرځوي، خپلې اندېښنې مطرح کړې.

۲۷. د جولای پر ۴ نېټه، د هند حکومت د شنګهای د همکارۍ سازمان د دولتونو د مشرانو درویشتمه سرمشریزه په انلاین ډول رهبري کړه. د سرمشریزې اعلامیې د نورو شیانو ترڅنګ افغانستان د یوه خپلواک، بې طرفه، متحد، دیموکراتیک او سوله ییز دولت په څیر جوړولو، چې له تروریزم، جګړې، نشه یي توکو پاک وي لپاره مدافعه وکړه او د یوه ټولشموله دولت د جوړولو ملاتړ یې وکړ. د جولای له ۲۶ تر ۲۸ نېټې پورې، قزاقستان په آستانا کې د افغانستان لپاره د مرکزي اسیا هیوادونو او د امریکا د متحده ایالاتو د ځانګړو استازو د "C5+1" ناستې کوربه و چې د افغان میرمنو د حقونو، ټولشموله حکومت او له برحاله چارواکو سره د تعامل د نورو ګامونو په اړه خبرې اترې ترسره کړې. د اګست پر ۴ نېټه، د تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان ولسمشرانو عشق آباد کې سره ولیدل څو د اقتصادي همکارۍ، سیمه ییز امنیت او سیمه ییزو ننګونو ته په غبرګون کې د بهتر شوې همکارۍ په اړه خبرې اترې ترسره کړې.

۲۸. د جون پر ۸ نېټه، د پاکستان او ترکمنستان دولتونو د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان د ګازو د نل لیکې د کار د تسریع په پار د تطبیق ګډ پلان لاسلیک کړ. د جولای پر ۱۸ نېټه، برحاله چارواکو په اسلام اباد کې د پاکستان، ازبکستان او افغانستان له چارواکو سره د افغان ترانزیت پروژې درې اړخیز تړون لاسلیک کړ. د جولای پر ۱۹ نېټه، د خلیج همکارۍ شورا او د مرکزي اسیا د هیوادونو مشران د یوې ګډې سرمشرۍ لپاره سره راغونډ شوي وو چې د نورو موضوعګانو ترڅنګ د افغان-ترانزیت د ریل پلټې د جوړولو په اړه خبرې اترې وکړي. د جون پر ۱۳ نېټه، د راپورونو له مخې له روسیې فدراتیف څخه پاکستان د مایع ګاز صادرات د لومړي ځل لپاره ورسیدل، چې له روسیې فدراتیف څخه قزاقستان او ازبکستان ته د ریل ګاډي په وسیله او د افغانستان د ننګرهار ولایت له تورخم څخه د لاریو په وسیله تیریږي.

۲۹. د جون پر ۲۴ نېټه، برحاله رئیس الوزراء او برحاله د سوداګرۍ او صنایعو وزیر د ترانزیت د ملي کمېټې له خوا د هغه پلان تصویبول تایید کړل چې د لویو موټرو په وسیله له ترکمنستان څخه پاکستان ته د افغانستان له لارې د "امتحاني مودې" لپاره ګاز او تیل ولیږدوي.

۳۰. دوه اړخیز تړونونه په اساسي ډول په اقتصادي مسلو، سوداګرۍ او اتصال متمرکز وو. د جولای پر ۱۱ نېټه، د افغانستان لپاره د ازبکستان ځانګړي استازي عصمت الله ارګشوف د بلخ له برحاله والي یوسف وفا سره په مزار شریف کې ولیدل څو د اقتصادي اړیکو په اړه خبرې وکړي. برحاله د سوداګرۍ او صنایع وزیر نور الدین عزیزی د مې پر ۱۸ نېټه په روسیې فدراتیف کې د روسیا – اسلامي نړۍ په څوارلسمه ناسته کې ګډون وکړ او د اګست له ۳ تر ۵ نېټې یې د یوه درې ورځني سوداګریز

ننداراتون په پار له قزاقستان څخه لیدنه وکړه. د جون پر ۳۰ نېټه، د رئیس الوزراء مرستیال عبد السلام حنفي او برحاله د دفاع وزیر محمد یعقوب عمر د سعودي عربستان په جده کې د سعودي عربستان له شهزاده محمد بن سلمان سره ولیدل.

۳۱. د جولای پر ۳۰ او ۳۱ نېټه، برحاله د بهرنیو چارو وزیر امیر خان متقي د افغانستان لپاره د ځانګړي استازي توماس ویست، د افغان ښځو، نجونو او بشري حقونو د ځانګړې استازې رینا امیري او په دوحه کې د افغانستان لپاره د متحده ایالاتو د ماموریت شاژدفیر کرن دیکر په ګډون د متحده ایالاتو د لوړ پوړو چارواکو له پلاوي سره په دوحه کې ولیدل. په یوه اعلامیه کې، متحده ایالاتو د طالبانو د هغې دوامدارې ژمنې یادونه وکړه چې اجازه ور نه کړي څو د افغانستان قلمرو د هیچا له خوا ونه کارول شي چې متحده ایالات او د هغوي متحدین وګواښي، او دا چې دوارو خواوو د امنیتي ژمنو د پوره کولو لپاره د طالبانو د هڅو په اړه خبرې وکړې. له طالبانو غوښتنه وشوه چې هغه پالیسي ګانې بېرته واخلي کومې چې په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په ځانګړي ډول د ښځو او نجونو لپاره د ناوړه کیدو مسوؤلې دي. کله چې په دوحه کې و، برحاله د بهرنیو چارو وزیر دغه راز په دوحه کې د میشتو د نورو هیوادو د سفارتونو له استازو سره د افغانستان په تړاو د اړوندو موضوعګانو په موخه، ولیدل.

**دربیم. بشري حقونه**

۳۲. د جون پر ۲۷ نېټه، یوناما په افغانستان کې پر ولسي وګړو د لاس جوړ چاودیدونکو وسیلو د اغیز په اړه یو راپور خپور کړ. راپور موندلې چې د طالبانو د بېرته راتګ وروسته د وسله والې جګړې له امله په ولسي مرګ ژوبله کې د پام وړ کموالي سره سره، ولسي وګړي لا اوس هم د لاس جوړ چاودیدونکو وسیلو په کارونې سره له عمدي بریدونو څخه د پام وړ زیانمن کېږي. د راپور ورکولو په موده کې، یوناما لږ تر لږه ۱۵۴ ملکي تلفات (۴۱ وژنې او ۱۱۳ ژوبلې) مستند کړي چې د دوي ترمنځ لږ تر لږه ۶۵ هغه یې ماشومان دي چې زیاتره هغه یې له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو او د لاس جوړ چاودیدونکو وسیلو په کارونې سره د هدفي بریدونو له امله پېښ شوي. له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي لا اوس هم ماشومانو ته زیات زیان اړوي، څوک چې زیاتره دغه ناچاودیدونکي توکي د وسپنې د ټوټې په څیر د پلور لپاره راغونډوي یا ورسره لوبې کوي.

۳۳. د اپریل د ۱ او د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ، د ماشومانو او وسله والې جګړې په اړه د څارنې او راپور ورکونې د افغانستان هیوادنۍ کاري څواک ۳۹۳ جدي سرغړونې مستندې کړي چې د ۲۴ نجونو په ګډون یې ۲۵۵ ماشومان اغیزمن کړي. په ټر ټولو زیات معمول سرغړونو کې وژنه او ژوبله، په وسله واله جګړه کې د ماشومانو استخدام او کارونه او له بشري مرستې حرمان شامل وو، چې د ټولو مستند شویو سرغړونو ۹۲ سلنه جوړوي.

۳۴. د راپور ورکولو په موده کې، یوناما د تیر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو شپږ صحرایي وژنې، لږ تر لږ ۳۰ خپلسرې نیونې او توقیفونې او د دغو اشخاصو په وړاندې د شکنجې او ناوړه چلند لږ تر لږه ۱۶ موارد مستند کړي. د بشري حقونو په هغو سرغړونو کې چې د راپور ورکونې په موده کې مستند شوي او د ادعاوو له مخې د برحاله چارواکو له خوا د هغو اشخاصو په ضد ترسره شوي چې د مقاومت له وسله ډلو په ځانګړي ډول د ملي مقاومت جبهې او د عراق او شام د اسلامي دولت – خراسان ولایت ډلې سره په تړاو تورن دي، لږ تر لږه شپږ صحرایي وژنې او حد اقل ۴۵ خپلسرې نیونې او توقیفونې شاملې دي. د اګست پر ۲۲ نېټه، یوناما د بشري حقونو د هغو سرغړونو په اړه یو راپور خپور کړ چې د ادعاوو له مخې د برحاله چارواکو له خوا د تیر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو په ضد ترسره شوي. د ۲۰۲۱ کال د اګست د ۱۵ او ۲۰۲۳ کال د جون د ۳۰ نېټې ترمنځ د بشري حقونو د څانګې له خوا لږ تر لږه ۲۱۸ صحرایي وژنې، ۴۲۴ خپلسرې نیونې او توقیفونې، د شکنجې او ناوړه چلند ۱۴۴ موارده او د اجباري ورک کیدو ۱۴ موارد مستند شوي.

۳۵. د قضايي تعذيري سزا په تړاو، يوناما په عام محضر کې د يو لړ جرمونو لکه د نشه يي توکو جرمونه، قمار، تېښته، "غير اخلاقي" چلند او لواطت په تور د لړ تر لړه ۳۴ سړيو، ۸ ښځو او ۲ هلکانو په دورو وهل ثبت کړي. د جون پر ۲۰ نېټه، برحاله سترې محکمې پر ټولنيزو رسنيو اعلان وکړ چې په لغمان ولايت کې پر يوه ۳۵ کلن سړي د اعدام سزا تطبيق کړه. واک ته د طالبانو د بېرته راتګ راهيسې دا د اعدام دويم مورد دی چې د محکمې له پرېکړې سره په سمون کې ترسره کېږي.

۳۶. د وينا آزادي لا اوس هم مقيده ده. د جون پر ۱ نېټه په کابل کې د حسيب احراري په نامه يو شاعر او ليکوال د برحاله چارواکو په ضد د تبلغ خپرولو په تور تورن او ونيول شو؛ هغه بيا وروسته د جولای پر ۲۴ نېټه خوشې کړای شو. د جولای پر ۱۲ نېټه په ننګرهار ولايت کې د راډيو يو ژورنالست عرفان الله بيدار هم ونيول شو؛ هغه بيا وروسته د جولای پر ۲۵ نېټه خوشې کړای شو. د اګست له ۶ راهيسې، برحاله د استخاراتو لوي رياست په ټول افغانستان کې لږ تر لږه نهه ژورنالستان توقيف کړي. سربېره پر دې، مرتضا بهسودي يو افغان الاصله فرانسوي ژورنالست څوک چې د جنوري پر ۷ نېټه د برحاله چارواکو له خوا نيول شوی، او مطيع الله ويسا د قلم لار انجو رئيس څوک چې د مارچ پر ۲۷ نېټه نيول شوی، لا اوس هم په بند کې دي. د اګست پر ۱ نېټه، برحاله چارواکو په جلال آباد ښار کې د ګډ-جنسيت ژورناليزم ورکشاپ د ترسره کولو په تور د هميشه بهار راډيو تلويزيون خپرونې بندې کړي. دوه نور راډيويي سټېشنونه چې له هميشه بهار سره يې يو ځای موقعيت درلود، هم تړل شوي. دغو دريو واړو ته بېرته اجازه ورکړل شوې چې خپل فعاليتونه بېرته پيل کړي.

۳۷. د جولای پر ۱۷ نېټه، د طالبانو وياند اعلان وکړ چې هغه مراسم چې د اهل تشيع ټولنو له خوا د عاشورا په موده کې لمانځل کېږي، به ترسره شي؛ خو ګروپي تګ راتګ او سترو غونډو ته اجازه ور نه کړل شوه. د کابل او غزني په ښارونو کې، برحاله امنيتي پرسونلو په زور د عاشورا ويرکوونکي تيت کړل، چې په غزني کې د څلور ولسي وګړو د مړينې لامل شو.

۳۸. برحاله د امر بالمعروف او نهي عن المنکر وزارت د خپلو کارمندانو د نظم د ښه کولو لپاره د يو شمېر هڅو ترسره کولو ادعا کړې. د مې پر ۲۴ نېټه، نوموړي وزارت اعلان وکړ چې يو کارمند يې وروسته له هغې له دندې ګوښه شو کله چې کارمند د بس چلوونکی په څپېړه وواهه او ويډيو يې پر ټولنيزو رسنيو خپره شوه. له دې سره سره، يوناما د ناوړه چلند، خپلسرو نيونې او توقيف ۱۲۰ داسې موارد مستند کړي چې د دغه وزارت د پرسونلو له خوا د هغو افرادو پر ضد ترسره شوي څوک چې د دوي د لارښونو په مراعتولو کې پاتې راغلي.

۳۹. د راپور ورکونې په موده کې د ښځو او نجونو د اساسي حقونو او آزادي ګانو محدودولو دوام درلود. د جون پر ۲۱ نېټه، د کندهار برحاله د کډوالو او بېرته راستنېدونکو چارو رياست يو مکتوب خپور کړ چې د طالبانو د مشر له هغه فرمان سره سم چې افغان ښځې له کورنيو او نړيوالو نا دولتي سازمانونو سره له کار کولو منع کوي، ټولو افغان ښځينه بشري کارمندانو ته يې امر کاوه چې خپلو کارونو ته حاضرې نه شي.

۴۰. د وژنې، ناموسي وژنو، اجباري ازدواج، وهلو ټکولو چې د ژوبلې يا معلوليت لامل کېږي په ګډون د ښځو او نجونو په وړاندې د تاوتريخوالي د پېښو، او دغه راز د ښځو او نجونو د ځان وژنو د راپورونو خبر ورکړل شوی. په جولای کې، د ربعوارو سلا مشورو د يوې برخې په څېر، يوناما، د جنسيت مساواتو او د ښځو د ځواکمنتيا لپاره د ملګرو ملتونو اداره (UN-Women) او د کډوالۍ نړيوال سازمان په ۲۲ ولايتونو کې له ۵۲۹ افغان ميرمنو سره په اړيکه کې شوي. دغو ښځو د هغوي پر ژوند او رواني روغتيا د برحاله چارواکو د فرمانونو د متراکم اغيز يادونه وکړه. شا و خوا ۷۱ سلنه هغو يې خبر ورکړی چې د اضطراب، انزوا او خپګان احساسات يې په تېرو دريو مياشتو کې د پام وړ بدتر شوي – چې د تېرې ربع په پرتله ۵۷ سلنه زياتوالی په ډاګه کوي. شا و خوا ۶۱ هغو يې خبر ورکړی چې د هغوي په ځايي سيمو کې دغه فرمانونو له کومې استثناء پرته له زياتېدونکې شدت سره تطبيق شوي. له دغو محدوديتونو سره سره، ښځو په فعال ډول په خپلو ټولنو کې ونډه اخيستل جاري ساتلې، چې ۷۸ سلنه ځواب ورکوونکو يې په ډاګه کړې چې کله يې عايد درلود له خپلې کورنۍ يې بهر نورو خلکو ته د مرستې لاس اوږد کړی. هغو چې مشورې ورسره شوي له نړيوالې ټولنې غوښتنه کړې چې د ښځو لپاره د زده کړو په مخکې د پرتو خنډونو له لرې کولو، د اقتصاد

ښه کولو او عاید پیدا کولو فرصتونو کې خپلې هڅې جاري وساتي. ځواب ورکوونکو په سیاست کې د ګډون، د کورنۍ په کچه د هغوی د ځواکمنتیا په برخه د ښځو پر حقوقو حمایت ټینګار وکړ. دوي د دې غوښتنه وکړه چې نړیواله ټولنه دې له برحاله چارواکو سره د جنسیت د برابرۍ او د ښځو د حقونو په اړه خپل تعامل زیات کړي. شا و خوا ۴۹ سلنه ځواب ورکوونکو اخطار ورکړ چې د ملګرو ملتونو له خوا د برحاله چارواکو په رسمیت پیژندل باید یوازې د ښځو په حقونو پورې اړوند د مشخصو شرایطو له مخې ترسره شي، او ۴۷ سلنه یې استدلال کاوه چې د هیڅ ډول شرایطو له مخې نه باید په رسمیت وپیژندل شي.

**څلورم. اقتصادي پرمختګ، همکاري او د مرستو اغېزمنتوب**

۴۱. د "افغانستان اقتصادي څار" تر عنوان لاندې د نړیوال بانک د ۳۱ جولای د خپرونې له مخې چې په میاشتني ډول خپرېږي، د راپور ورکونې په موده کې ستر اقتصادي کارکردګی په نسبي ډول پیاوړې وه. د عوایدو غیر رسمي ډېټا په ډاګه کوي چې د ۱۴۰۲ مالي کال د لومړیو څلورو میاشتو لپاره (چې د مارچ له ۲۱ نېټې څخه پیلېږي) د عوایدو راغونډول ۶۳ بیلیونه افغانۍ (۷۳۹ میلیونه امریکایي ډالر) شوي، چې د تیر مالي کال د ورته مودې په پرتله ۱۶ زیاتوالی په ډاګه کوي. دغه زیاتوالی تر ډېره د بندرونو د مالیاتو له امله و کوم چې نږدې د ټولو عواید ۶۰ سلنه جوړوي. د داخلي عوایدو راغونډول هم ښه شوي، چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۷ سلنه زیات شوي چې په اساسي ډول د پاسپورټ د فیسونو او کان کیدنې د حق الامتیاز له امله و. په داسې حال کې چې د برحاله چارواکو له خوا د مالیاتو د راغونډولو د تشدید شویو هڅو له امله د عوایدو راغونډول زیات شوي، د ملګرو ملتونو د پراختیایي پروګرام د اټکلونو له مخې په ۲۰۲۱ کال کې د ۲۰.۷ سلنه پرېوتنې په تعقیب په ۲۰۲۲ کال کې نا خالص داخلي تولید ۳.۶ سلنه راکم شوی. دغه رکود تر ډېره په ۲۰۲۳ کال کې په بشري تمویلونه کې سخت کموالي ته منسوب شوی. په ۲۰۲۲ کال کې له افغانستان سره د ۳.۷ بیلیونه امریکایي ډالرو مرسته شوې وه. د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام اټکل کړی که چېري په ۲۰۲۳ کال د نړیوالو مرستو د عین اندازې په مقابل کې ۳۰ سلنه کموالی رامنځ ته شي، نا خالص داخلي تولید به د ۱.۴ سلنې ودې په پرتله راکم شي، که چېرې مرستې بندې نه شي.

۴۲. اوسنې چارواکي د ملي او صادراتي بازارونو لپاره د دوارو خصوصي او دولتي شرکتونو د ملاتړ له لارې، د کورنیو تولیداتو پر زیاتولو تمرکز وکړ. د اګست د میاشتې په ۳ نېټه، د اونسې چارواکو د مالیې وزارت د سوادګري د سکتوري خونو سره وکتل تر څو په تېر کې جوړې شوې د ګډې کمیټې د طرزالعمل په اړه بحث وکړي چې د خصوصي سکټور د ستونزو د حل لپاره رسیدګې وکړي. په کابل کې د جولای د میاشتې د ۱۶ څخه بیا تر ۲۲ نیټې پوري د ابو حنیفه خصوصي سکتور ننداړتون جوړ شوي و، چې شاوخوا ۷۰۰ سوداګرو، د ښځو په مالکیت د ۲۵۰ سوداګریز نهادونو په ګډون، برخه اخیستې وو. د جولای د میاشتې په ۲۱ او ۲۳ نېټه، دغه وزارت د ۲۰۲۱ د اګست د میاشتې راهیسې د ۴۴ دولتي تصدیو له مجموعې څخه د ۱۲ تصدیو د بیا فعالولو او د ټولو دولتي تصدیو د وضعیت ارزولو لپاره د یو کمیسیون جوړولو اعلان وکړ.

۴۳. د "افغانستان اقتصادي څارونکي" د جولای د میاشتې د ۳۱ ګڼې خپرونې پر بنسټ، د نړیوال بانک له خوا منسوب شوی کال پر بل کال ټولیز انفلاسیون کچه منفي ۲،۸۳ سلنه تشخیص کړی، چې د ۲۰۲۳ د مې تر میاشتې پورې، د هر کال په تېریدو سره په خوراکي توګه کې د ۵،۸۵ سلنې کمښت لومړني محرک له امله رامنځته شوي دی. د دې اصلي اغیزې (د ۲۰۲۲ په لومړي نیمایي کې لوړ انفلاسیون) او همدارنګه د اجناسو په بیو کې د نرخونو کمیدل او د افغاني اسعارو کې ستر اغیزې ته منسوب شوی دی. که څه هم بنسټیز خوراکي او غیر خوراکي توکي په عمده بازارونو کې په پراخه کچه د لاسرسي وړ وو، د "افغانستان اقتصادي څارونکي خپرونه" دا څرګنده کړې ده چې تر نیمایي زیات افغان کورنۍ د خپل کور د ژوندانه چارو په برابرولو کې د پام وړ ننګونو سره مخ دي او د دوی معیشت په زیاتیدونکي توګه په نړیوالو مرستو او د بهر څخه د خپلوانو له خوا د پیسو استولو باندې اتکا لري.

۴۴. د نړیوال بانک "د افغانستان اقتصادي څارونکي" د خپرونې په وینا، د ۲۰۲۳ کال د جنورۍ او د مې د میاشتو تر منځ د افغانستان صادرات ۰.۷۳ میلارد ډالرو ته رسېدلی، چې د ۲۰۲۲ کې د ورته مودې په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی ښيي، په عمده توګه د ډبرو سکرو د زیاد صادرات ونډې منعکسوي. په ورته حال کې واردات د ۳،۱ ملیارد ډالرو ته رسیږي چې د تیر کال د ورته مودې په پرتله ۳۶ سلنه وده درلود. د پایلې په توګه، سوداګریز کسر ۲،۴ ملیارد ډالرو ته پراخ شوی دی.

۴۵. د سالنګ او کندهار – کابل د لویې لارې د ترمیم چارې، د جولاې د میاشتې په ۱۲ او ۱۵ نېټو، په ترتیب سره، پیل شویدي. د جولای د میاشتې په ۲۵، د اوسنې چارواکو کابینه اقتصادي کمسیون ته لارښوونه وکړه چې د انرژۍ پروژو ته، د بین الوزارتي کمیسیون د په همکاري سره کوم چې د همدې هدف په خاطر تاسیس شوی دی، لومړیتوب ورکړي. اوسنې چارواکې د اګست د میاشتې په لومړۍ نېټه اعلان وکړ چې د قوش تیپې کانال د کار لومړي پړاو ۸۵ سلنه بشپړ شوی دی. پداسې حال کې چې تمه کیږي چې د اوبو ذخیري د جوړښت کار تر ۲۰۲۵ کال پوري دوام وکړي، شکیلو اړخونو په دوامداره توګه د یوناما سره د کانال په اړه خپلې اندیښنې څرګند کړې چې د امو سیند او د ارال بحیرې حوزي د شرایطو  په پام کې نیولو سره پر لاندې اوبو باندې بالقوه اغیزې لری، ځکه چې د سرحدونو څخه د اوبو د تېریدو د تخصیص هیڅ ډول تړون شتون نلري چې افغانستان پکې شامل وي. د اګست د میاشتې په ۷ نېټه د هرات په ولایت کې د اوسپنې څلور لوی کانونو او د غور په ولایت کې یو د زینګ او یو د سرب کانونو قرارداد له نړیوالو شریکانو سره د ګډو شرکتونو سره وتړل شول. د اګست د میاشتې په ۵ نېټه د اوسنې چارواکو د اقتصادي کمیسیون یو پلان اعلان کړ چې د هغه پر بسنټ اقتصادي مشورتي بورډ رامنځته کړی چې په هغه کې د پوهنتون استاذانو، د اقتصادي چارو متخصصین او د سوداګرۍ او صنایعو د چارو او استازي پکې ګډون ولري. د اګست د میاشتې په ۲۰ نیټه اوسنې چارواکې اقتصادي کمیسیون د ملي پراختیا ستراتیژي د نهايي کولو په موخه د یوې بین الوزارتي کمېټه طرحه تائید کړه.

۴۶. په سویټزرلند کې میشت د افغانستان د خلکو لپاره د امانت د صندوق بورډ، د افغانانو لپاره په سویس کې میشت وجهي صندوق د باوري بورډ، دا د افغانستان لپاره د ۳.۵ ملیارد ډالرو د زیرمې د ساتنې مسؤلیت لري او په تېر وخت کې په متحده ایالاتو کې ساتل کیده، د جون د میاشتې په ۲۶ نېټه د دریم ځل لپاره، په مجازي ډول، سره وکتل. د راپورونو پر بنسټ دغه پیسې ټولټال ۱۲۸ ملیون امریکايي ډالره ګټه کړیده. په یوه بیان کې ویل شوي دیچې، بورډ د دغو پیسو د ګټو څخه عاید شوي یوه کوچنۍ برخه د اړینو عملیاتي لګښتونو په خاطر د تخصیص کولو پریکړه کړیده، په داسې حال کې چې د تمویل د نورو سرچینو په لټه کې دی، غواړي چې یوه مشورتي کمیټه رامنځته کړي چې پکې افغان اتباعو او نړیوالو غړو برخه ولري.

۴۷. د نغدو پیسو د واردولو اسانتیا چې د ملګرو ملتونو لخوا د بشرپالنې د عملیاتو د ملاتړ لپاره تاسیس شوی دی، د د ۲۰۲۱ کال د دسمبر د میاشتې د ۱ نېټه څخه بیا د ۲۰۲۳ کال د جولای د میاشتې تر ۳۰ نېټې موده کې ۲،۹ ملیارد امریکايي ډالر انتقال کړي دي. په همدې دوره کې د ملګرو ملتونو ۱۹ موسسې، وجوه او پروګرامونه، نړیوال بانک، د آسیا پراختیايي بانک او ۴۹ نړیوال تایید شوي نادولتي موسسې دغه اسانتیاوو ته لاسرسی موندلی دی. وارد شوي پیسې د ملګرو ملتونو ادارو ته دا ځواک وکړي چې خپل د بشرپالنې هڅې تمویل کړي او پداسې حال کې چې د افغانستان د اسعارو په ثبات کې هم مرسته کوي، نړیوال تایید شوي نادولتي موسسې ته هم د نړیوالو مرستو د ترلاسه کولو په خاطر شفافه او کم لګښته انتقالي لاره چمتو کړی دی.

۴۸. یوناما د هیواد له مرکزي بانک سره خپل تعامل پیاوړې کړی دی. د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړې استازې، روزا اوتونبایوا، د جولای د میاشتې په ۱۹نېټه، د افغانستان د مرکزي بانک د اوسنې چارواکو د سرپرست رئیس، هدایت الله بدری سره وکتل، چې د کوچنیو پورونو په اړه د یوې غونډې د تنظیم په اړه خبرې وکړي تر څو اړینو افغان وګړو ته د مرستې په خاطر د فرصتونو، ننګونو او حل لارې عرصي رابرسېره کړي چې د دې لپاره د ځانګړې استاذې تر مشرۍ لاندې د رهبرۍ یوه کمیټه جوړه شوې ده. د رهبرۍ کمیټې خپله لومړۍ غونډه د جولای په ۳۱ نیټه دایره کړه. وروسته، مرکزي بانک او ملګرو ملتونه، اړوند تخنیکي کاري ډلې جوړ کړل چې د بانکدارۍ او مالي سکټور په مسلو کې همغږۍ لا پسې ښه کړي. کاري

ډله دوه ځله د جولای د میاشتې په ۲۴ نېټه او د اګست د میاشتې په ۱۰ نېټه کې سره لیدلي ترڅو د کوچني پورونو، د پیسو نړیوال لیږد کې ننګونې، د بانکونو روغتیا، د مرکزي بانک ظرفیت، اسلامي بانکداري او د پیسو غیر رسمي بازار اړوندو مسلو په اړه بحث وکړي.

۴۹. د افغانستان د همغږۍ ډلې او اروپايي اتحادیې لوړ پوړي چارواکي د جون د میاشتې په ۲۷ نېټه، په بروکسل کې دایر شول؛ په دغو غونډو کې د ملګري ملتونو او د هغه د ملګرو، په افغانستان کې اصولي مرستو د چمتو کولو لپاره د دوی هڅې وستایلې، او په هغه کې د نړیوالو مرستو د دوام لپاره د لارو چارو په اړوند بحثونه شامل وو. د ملګرو ملتونو او انجو ګانو لپاره د افغان ښځینه کار کوونکو باندی د کار بندیزونو باوجود، د افغانستان لپاره د ځانګړي وجهي صندوق توانیدلی دی چې خپلو مرستو ته په شمالي، سویلي او ختیځو سیمو کې دوام ورکړي او اړینو افغانانو ته، د ملګرو ملتونو د بشرپالنې اصولو سره سم، ملاتړ چمتو کړي. د جون د میاشتې په ۲۶ نېټه غونډه کې د ځانګړي امانت صندوق د کاري لایحې تعدیل د هغې د رهبري کمیټې په غونډه کې تصویب شو چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د هیواد په کچه ټیم د ګډ پروګرام جوړولو فعالیتونو د ملاتړ لپاره لومړني هراړخیز تمویل کوونکې وسیله جوړوي. د ځانګړي امانت صندوق د افغانستان لپاره د ۲۰۲۳ – ۲۰۲۵ کلونو مودې په دوران کې ستراتیژیک کاري چوکاټ جوړوي چې د جولاي د میاشتې په ۳ نېټه کې په لاره واچول شو. کاري چوکاټ په دریو لاندنیو تکمیلي لومړیتوبونو باندي تمرکز لری: دوامداره اړین خدمتونه؛ اقتصادي فرصتونه او انعطاف پذیر معیشت؛ او ټولنیز یووالی، شمولیت، جنسیتي برابري، بشري حقونه او د قانون حاکمیت.

۵۰. د جون د میاشتې په ۵ نېټه، د افغانستان مدني ټولنې سازمانونه د بحث لپاره د یو ګردي میز کوربه چې د هغه په ترڅ کې د چاپیریال نړیواله ورځ ونماځل شو. د ګردي میز ټول ګډونوالو د ۲۰۲۱ کال د اګست د میاشتې راپدیخوا د اقلیم د بدلون او د چاپیریال د مسلو په اړوند د عمل پلان نشتوالی او افغانستان ته د اقلیم په اړه د تمویل د دوام تعلیق مسلې په ګوته کړل. څو کلنه وچکالي په دوامداره توګه د بشري اړتیاوو، معیشت او مهاجرت محرکونو باندې خپل منفي اغیزې ته دوام ورکړي، او د پولو له لاري د سیند د اوبو د انتقال په حوزه کې د محرکونو اضافي فشارونه رامنځته کوي. په وروستیو وختونو کې اوسنې چارواکو د ځمکي لاندې اوبو د کمښت له امله، د ځمکي لاندی اوبو په کارولو باندي د طرزالعملونو په پلې کولو پیل کړي او د ځنګلونو په پري کولو باندي ځینې محدودیتونه پلي کړي او د اګست د میاشتې په ۶ نېټه کې د انعطاف پذیر اقلیم په اړوند د دوامداره پنځه کلن پلان مسوده اعلان کړه. د افغانستان د مدني ټولنې ځینو استازو د اقلیم د بدلون په اړه د ملګرو ملتونو د کاري چوکاټ کنوانسیون ډلو په کنفرانس کې د افغانستان د نه استازیتوب خبره له یوناما سره د مطرح کولو پر مهال خپله ژوره اندیښنه په توګه کړل.

۵۱. ملګرو ملتونو د جنسي استثمار او ناوړه ګټه اخیستنه په مخنیوي او هغه ته رسیدګي په اړوند مسلو کې پرمختګ کړی دی. د جولای د میاشتې په ۵ نېټه، د جنسي استحصال، ناوړه ګټه اخیستنې او ځورونې په اړوند په هیواد کې دننه همغږي کوونکي راپور ورکړي دی چې د جنسي استفادې او ناوړه ګټه اخیستنې د مخنیوي لپاره یوه شبکه یې رامنځته کړي چې په هغه کې د ملګرو ملتونو، نادولتي موسسې، د مدني ټولنې سازمانونه او تمویل کوونکو ۱۲۵ اداري ګډون لري، په داسې حال کې چې د خطر د پیژندنې، د کمولو تدبیرونو، د راپور ورکولو میکانیزمونه او د ظرفیت لوړول په موخه د یو واحد/مرکزي او د لاسرسي وړ ځایونو د رامنځته کولو په اړوند کار دوام لري.

## پنځم. بشرپالنې مرستې

۵۲. افغانستان په دوامداره توګه د بشري مرستو اړتیا له یې ساري کچې سره مخ دی چې په ۲۰۲۳ کال کې د دې هیواد د وګړو دوه پر دریمه برخه د بشرپالنې مرستو ته اړتیا لري. د کال مینځنې رجحانات د چاپېریال خوندیتوب، په خواړو کې محدود ناامني

او د هغو خلکو لړ شمیر چې اټکل کیږي نوي د طبیعي پېښو له امله اغېزمن شوي دي، او د ایران اسلامي جمهوریت او پاکستان هیوادونو څخه د بې اسنادو بېرته راستنیدونکو شمیر د کال د پاتې برخه کې د ناوړه وضعیت ښکارندوي دی. د خوندیتوب ناوړه وضعیت د اړینو خلکو د اټکل شوي شمیر د لا زیاتیدو لامل شوي او د ۲۰۲۳ کال له پیل راهیسې د بیوزلو کسانو شمېر د ۲۸،۳ ملیون څخه ۲۹،۲ ملیون ته لوړ شوی دی. په مخ کې پراته ګواښونه لکه د مراکش د ملخانو شیوع او نور نباتي آفتونه او حیواني ناروغۍ له مخکې ناوړه وضعیت، د خوراکي توکو خوندیتوب او د ژوندانه وضعیت به لازیات اغېزمن کړي. د دوو تېرو پرله پسې کلونو وچکالۍ اغیزې د سختو خوړو، د ژوندانه معیشت او د اوبو د کمښت د محرک په ډول دوام لري.

۵۳. د ۲۰۲۲ په ډسمبر میاشت کې د غیر دولتي موسسو لپاره د افغان میرمنو په کار کولو باندي د بندیز په تعقیب او سخت محدودیتونه وروسته د ۲۰۲۳ کال د اپریل په میاشت کې ملګرو ملتونو ته هم وغځول شوو د جندر او بشرپالنې د لاسرسي کاري ډلو لخوا تر سره شوي وروستي ګرندي سروې وموندل چې د ۱۵۰ ځواب ویونکو سازمانونو له جمعي څخه ۲۸ سلنه راپور ورکړی چې ښځینه کارکوونکي لاهم د کور څخه کار کوي، د ښځو په مشرۍ موسسې ۱۵ سلنه خپل فعالیت بند کړی او په سلو کې ۶۷ سنله د عملیاتو د دوام پخاطر بودیجه نه ده ترلاسه کړې. د جولای د میاشتې د پیل راهیسې، د راپورونو له مخې د ښځو سازمانونو د اوسني چارواکو د اقتصاد وزارت څخه رسمي لیکونه ترلاسه کړي او د دوي څخه غواړي چې خپل ښځینه مشران او د بورډ غړي تبدیل او د هغوي په ځاي نارینه وټاکي. د دغه بندیز اروند په هره برخه کې ځانګړي اغیزې، د هیواد په کچه د بشرپالنې د ډلي لخوا څارل کیږي، او د روانو ننګونو او سیمه ایزو بدلونونو سره سره، په ټولو عرصو کې (د اړتیا ارزونې، ویش او څارنه کې)، د ښځو ګډون شامل دي. په داسې حال کې چې ټولیز ډول سره لاسرسی د ۲۰۲۲ کال د لومړیو څلورو میاشتو په پرتله په نسبي توګه ورته پاتې دی، د ۲۰۲۳ کال د جنوري او اپریل تر منځ موده کې ۱۷،۳ ملیونه خلکو سره مرسته شوې، د بشرپالنې ځینې ډلییز غبرګون د پام وړ کمښت درلودل. د تمویل کمښت او د اوسني چارواکو چارواکو لخوا بیوروکراسي خنډونه د پام وړ مرسته کوونکې محرکونه ګڼل کېږي. د بشرپالنې ټولنه د اوسني چارواکو سره خپل خبرو اترو ته دوام ورکوي چې د خپل ځايی تعامل او تړونونو له لاري بندیزونه لېري کړي.

۵۴. د ننګونو سره سره، د بشرپالنې ټولنه د افغان وګړو سختو اړتیاوو ته، د لا زیات ګواښ د کمولو د تدبیرونو له لاری او د متعارف وسایل په کارولو سره چې د باکیفیت پروګرام جوړولو لړترلړه معیارونه ډاډمن کړي، ځواب ورکوي. د عملیاتي چاپېریال د بدلون په پايلې کې، د ۲۰۲۳ کال لپاره د بشرپالنې د غبرګون پلان د می په میاشت کې بیا کتل شوی ترڅو موجوده عملیاتي چاپیریال په پام کې ونیول شي، د ښځو پر کار کولو د بندیز په ګډون، اوسمهال ټولټال ۳،۲۳ ملیارد امریکایي ډالرو ته اړتیا لري. همکاران غواړي چې د بیاکتل شوي بودیجې سره ۲۱،۳ ملیون خلکو ته مرستې چمتو کړي. په داسې حال کې چې پلان لړ ځواب تر لاسه کړي او د سپتمبر د میاشتې تر ۱۲ نېټې پورې د ټول غوښتل شوي تمویل یوازی ۲۷ سلنه تر لاسه شوی دی.

۵۵. د جنوري او جون د میاشتو تر منځ، ۲۱،۵ ملیون خلکو ته بشري مرستې چمتو شوې دې، که څه هم د تمویل د محدودیتونو له امله په بشپړ پلان شوی مقدار کې نه وو. کابو ۲۰،۱ ملیونه خلکو ته خوراکي توکې او د ژوندانه ملاتړ مرسته برابر شوي؛ ۸.۴ میلیونه هغه خلک چې روغتیایي پاملرنې ترلاسه کړې؛ ۳.۱ ملیون ماشومان او د شیدو ورکونکو میندو سره مرسته شوي د جدي خوارځواکۍ مخنیوی او رسیدګي وکړې؛ ۶،۲ میلیونه خلک د اوبو، روغتیا ساتنې او د حفظ الصحې مرستې تر لاسه کړي؛ ۱.۳ میلیونه ماشومان زده کړو ته لاسرسی وموندلي؛ ۴۰۶۰۰۰ خلک د بیړني سرپناه او کورني توکي تر لاسه کړي؛ او ۱،۶ملیونه خلک لږ تر لږه یو ډول د خوندیتوب مرستې تر لاسه کړي دي. د ایران اسلامي جمهوریت کې د چابهار بندر په کارولو سره د ویش نوې لاره افغانستان ته د بشري مرستو د رسولو لپاره پرانستل شو. د جولای د میاشتې په ۴ نېټه، لس زره مټریک ټنه غنم د هرات ولایت ته ورسېدل، چېرته چې په ټول افغانستان کې اړمنو خلکو ته د ویشلو په خاطر اوړه شول.

۵۶. د اپریل د میاشتې د ۱ نېټې څخه بیا د جون د میاشتې تر ۳۰ نېټې پورې، ۲،۳ ملیون وګړي د کورني خوراکې امنیت د ملاتړ څخه ګټه پورته کړي، د ۱۴۳۰۰۰ باکیفیته کرنیزو توکې، لکه کیمیاوي سرې او تخمونه، او کرهنیز روزنه؛ ۱.۱ میلیونه د څارویو

د ساتنې مرسته؛ ۶۳۰۰۰ په کور د چرګانو د ساتلو او تولید مرسته؛ ۶۷۸۰۰۰ په کور کې باغوانۍ او سابو د تولید کڅوړې؛ ۲۴۸۰۰۰ د کوچنیو فارم تجهیزاتو مرسته؛ د کار لپاره د نغدو پیسو مرسته؛۶۷۰۰۰ د ټولنې د مهمو زیربناوو بیا رغونه؛ او ۴۲۷۰۰۰ معمر کسان، معلولین او هغه میرمنې یا ماشومان چې د خپلو کورنیو سرپرستي کوي د غیر مشروط او یا څو اړخیزه د نغدو پیسو د مرستو په ګډون. څه نا څه ۲،۳ ملیونه څاروي په ۴۱۴ ولسوالیو کې د پوستکي ناروغي لپاره واکسین شوي، د ۱،۶ ملیون کورنۍ احتوا کوي. د ملخانو د کنټرول عملیات پلي شوي، چې په ۸ ولایتونو کې ۴۰۴۶۴ هکتاره ځمکه تر پوښښ لاندي نویلې.

۵۷. د جنوری د میاشتې د ۱ نېټې څخه بیا د جولای د میاشتې تر ۲۲نېټې پورې، د شري شکمنې پېښې ثبت شوې ( د ۵ کلونو څخه کم عمره ماشومانو ۷۱ سلنه) چې د ۲۰۲۲ کال د ورته مودې په پرتله راپور شوي ۱۸۰۰۰ شکمنې قضیې ۶۳۶۵۴ (د ۵ کلونو څخه کم عمره ماشومانو ۷۸ سلنه) وو. د ۲۰۲۳ په لومړیو اوو میاشتو ملګري ملتونه په ټولو ولسوالیو کې شاوخوا ۱،۴ ملیونه ماشومان د شري پروړاندې واکسین کړي دي. د جنوري د میاشتې د ۱ نېټې څخه بیا د جولای د میاشتې تر ۲۲ نېټې پوري د حاد اوبو اسهال او د ډیهایډریشن ۱۰۶۰۰۰ قضیې (په دوي کې ۵۷ سلنه د ۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان) راپور ورکړشوي، چې دغه شمېره د ۲۰۲۲کال د مې څخه تر جولای تر په پرتله ۱۹۰۵۰ قضیې (په سلو کې ۱۷ د ۵ کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان) وو. په کال ۲۰۲۳ کې، د وحشي پولیو ویروس لومړي ډول پنځه پیښې ثبت شوي چې د ۲۰۲۲ کال کې یوه قضیه وه.

۵۸. د شخړو پورې اړوند د صدماتو د مشورو شمېر، د ۲۰۲۲ کال د مې د میاشتې د ۲۱ څخه د جون د میاشتې تر ۳۰ نېټې د ورته مودې په پرتله، ۵۲ سلنه کم شوی، چې ټولټال ۷۸۴ تنه د شخړو اړوند د صدماتو پاملرنې ترلاسه کړې، چې د تیرې موده کې د ۱۶۴۸ تنه مشوري ترلاسه کړي وو. د ۲۰۲۳ کال له پیله ۲۱۴۰۰۰ ماشومان چې په شدیدو خوارځواکۍ اخته وو په ۳۳۴۶ بستریز او بې بیستریز د روغتیایي اسانتیا کې داخل او درملنه تر لاسه کړي ده. دروغتیایي اسانتیاوې له ۴۵۰ څخه زیات ګرځنده روغتیایي او تغذیه ټیمونه لیرې پرتې سیمې کې خلکو ته لاسرسي وموندل او هره میاشت شاوخوا ۴۰۰۰۰۰ مشورې چمتو کړي.

۵۹. د مې د میاشتې د لومړي نېټې څخه بیا د جولاي د میاشتې تر ۲۱ نېټې پوري په ټولیز ډول ۱.۲ ملیونه وګړی افغانستان ته بېرته راستانه شوي دي. څه د پاسه ۲۴۹ زره تنه د ایران له اسلامي جمهوریت څخه او له پاکستان څخه ۹۵۸۰۰۰ تنه بېرته راستانه شوي دي. د مې د میاشتې د لومړي نېټې څخه بیا د جود د میاشتې تر ۲۱ نېټې پوري، د ۲۰۵۸۰۰ څخه زیات بې اسناده مهاجرین د کډوالۍ نړیوال سازمان د څلورو استقبالیو مرکزونو څخه په هرات، نیمروز، ننګرهار او کندهار کې بېرته راستانه شوي دي. د کډوالې نړیوال سازمان راپور ورکړی چې له دې څخه ډیر دی ۸۷۰۰۰ هغه کسان چې غوښتل یې بېرته افغانستان ته راستانه شي له پولو څخه شاته ایستل شوي دي او له ۱۱۸۰۰۰ څخه زیات کسان په خپله خوښه بیرته راستانه شوي دي. د مې د میاشتې د ۱۱نېټې څخه بیا د جولاي د میاشتې تر ۲۵ نېټې پوري، لږ تر لږه ۵۲۷۷ افغان کډوال، د پاکستان څخه (۵۱۰۲)، د ایران اسلامي جمهوریت څخه (۱۳۰) او د نورو هېوادونو څخه (۴۵)، د ملګرو ملتونو په خپله خوښې پروګرام لاندی بېرته افغانستان ته راستانه شوي دي. په ۲۰۲۳ کې د کډوالو د راستنیدو چټکتا کابو شپږ چنده د ۲۰۲۲ کال د ورته مودې په پرتله لوړ شوي ده. ملګري ملتونه په کال ۲۰۲۳ کې کابو ۲۲۳۰۰۰ داخلي بې ځایه شوي کسان، راستنیدونکي او کډوال او د کوربه ټولنې غړو ته، په ټول افغانستان کې د بېرته راستنیدنې او بیا ادغام په ۸۰ لومړیتوب ډګرونو کې ملاتړ چمتو کړی دی. ملګري ملتونه د ۲۰۲۱ کال راهیسې، ۱.۳۹ ملیون داخلي بې ځایه شوي کسانو بیرته راستګ ثبت کړي دي.

۶۰. د هغو پیښو شمیر چې د بشرپالنې فعالیتونو په پلي کولو کې لاسوهنه پکې شامله ده، لوړ پاتې دي، چې د مې د میاشتې د ۲۱ نېټې څخه بیا د جولای د میاشتې تر ۲۶ نېټې پوري راپور شوي دي، ۱۹۱ پیښو ته رسیږي چې د ۲۰۲۲ کال په ورته مودې کې ۱۱۵ پیښې ثبت شوي وو. د راپور ورکولو په جریان کې، د بشرپالنې پرسونل، شتمنیو او تاسیساتو په وړاندې د تاوتریخوالي او ګواښونو ۱۵ پیښې ثبت شوي دي، چې د ۲۰۲۲ کال د ورته مودې په پرتله، چې ۴۵ پیښې ثبت شوي وو، کمښت ښیي. د دې

برسیره، د جنسیت پورې اړوند ۵۵ پیښې ثبت شوي چې لږ تر لږه ۹۹ سلنه د اوسني اصلي چارواکو ته منسوب شوي چې په هغه کې، د نورو په ګډون، په پروګرام فعالیتونو کې لاسوهنه (۲۲ پیښې) او د بشر پالنې په فعالیتونو کې د ښځو ګډون محدودیتونه (۲۲ پیښې).

۶۱. د ماین پاکۍ خدماتو دفتر د دوه کیلومتر پوښښ ساحه کې سروې ترسره کړي چې دا ممکنه کوي ۵،۱۰ کیلومتر مربع ځمکه چې په ماینونو ککړه ده، پاک کړي او په خوندي ډول سره ۱۸۶۶۴ چاودیدونکي توکي، د په لاس جوړ چاودیدونکو توکو په ګډون، راوباسي. په ټولیز ډول ۹۰۹۰۴ کسان، د ۴۴۳۵۹ ښځو او نجونو په ګډون، په خپلو ټولنو کې او د بیرته راستنیدو سیمو کې د چاودیدونکو توکو د ګواښ زده کړې ترلاسه کړې.

## شپږم. له نشه يي توکو سره مبارزه

۶۲. د ۲۰۲۲ کال په اپریل کې خپور شوی د برحاله چارواکو له خوا د نشه يي توکو پر کښت د بندیز په تعقیب لومړنۍ نښې نښانې په افغانستان کې د کوکنارو په کښت کې د کموالی ښکارندوی دي. ابتدايي ارزونې په ډاګه کوي چې زیاتره کروندګر د کوکنارو د کښت پر ځای د غنمو کښت ته مخه کړې. د وچ او په کروندو کې د تازه آپیوم داخلي بیې په نسبي ډول د تېرو پنځو میاشتو په اوږدې ثابتې پاتې شوې په ترتیب سره يو کیلو ګرام په ۳۲۷ ډالر او ۱۹۶ ډالر و. دغه بیه د ۲۰۲۱ کال د جولای میاشتې د بیې په پرتله نږدې پنځه برابره لوړه ده. له نشه يي توکو جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر د معلوماتو له مخې، د آپیوم قاچاق لا اوس هم دوام لري. په داسې حال کې چې د برحاله چارواکو له خوا د آپیوم د نیولو راپورونه ورکول کېږي، خو دغه نیونې معمولا د نورو کنترول شویو مهماتو له نیونې سره تړاو لري. د اقتصادي قانوني فرصتونو چې وکولی شي د نا قانونه فصلونو د کښت په مقابل کې مقایسوي جبران برابر کړي یا بازارونو ته د لاسرسي نشتون د ناقانونه فصلونو د کښت له لاملونو ګڼل کېږي.

۶۳. د راپور ورکولو په موده کې، له نشه يي توکو جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې د دفتر د بدیل پرمختګ پروګرام د ټولټال ۳۵۱۰۵ ګټه اخیستونکو لپاره له ۵۰۱۵ زیاتو زیانمنیدونکو کورنیو ته رسیدنه کړې چې له ۳۰ سلنې زیاتو هغو سرپرستې د ښځو له خوا کېده. په دې کې د قانوني فصل د کښت لپاره د اصلاح شویو تخمونو، کیماوي سرې، د ظرفیت جوړونې د روزنیزو ناستو او د ۱۱۳۹ کورنیو په ګډون چې سرپرستي يې د ښځو له خوا کېږي ۱۵۶۸ کورنیو د ترویج خدمتونو برابرول شامل وو. پر دې سربېره، د پروګرام له خوا د ۳۶۰ ښځو په ګډون د ۱۴۴۷ شپنو د ۲۵۵۵۷ څارویو لپاره د چینچیو ضد درمل برابر کړي.

۶۴. د راپور ورکولو په موده کې، د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام په شپږو ولایتونو کې ۱۰۵۰۰ کوچنۍ کچې کروندګرو ته چې د کوکنارو د کښت له امله اغیزمن شوي مرستې برابرې کړې. د دغو مرستو موخه دا وه چې د آپیومو د تولید د یوه ارزښتناک بدیل په څېر د لوړ ارزښت فصلونو تولید او بازار موندنه وهڅوي. پر دې سربېره، په دوه سوداګریزو نندارتونونو کې د ښځینه متشبثینو په ګډون د کرنیزې سوداګرۍ د افغان سوداګرو ګډون برابر شوی او د میوو، تخمونو، مغزیاتو لپاره د ۶.۶ میلیونه امریکايي ډالرو په ارزښت بالقوه تړونونه رامنځ ته شوي. د ملګرو ملتونو پراختیايي پروګرام او له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر د افغانستان په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د نشه يي توکو د مخنیوي او درملنې په پار د ګډو هڅو په اړه همغږي کړې. په دې کې د نشه يي توکو د کارونې په اړه په ملي کچه د هر اړخیزې سروې ترسره کول شامل و کومې چې د نشه يي توکو د مخنیوي، درملنې، بیا رغونې او د هغو افرادو لپاره چې له تیري سره لاس او ګریوان د زیان راکمونې لپاره ځانګړي شوي ۷۲ مرکزونه تشخیص کړل.

۶۵.	د افغان میرمنو د سوداګرۍ او لاسي صنایعو له تجارت خوني سره په همکارۍ له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر او د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنري په کابل کې په ګډه د ګډو خدمتونو او اسانتیاوو مرکز پرانیست. دغه مرکز به له نشه يي توکو څخه رغیدونکي کاروونکي، داخلي بېځایه شوي کسان او بېرته راستنیدونکي له ټولنې سره بېرته یوځای کیدو او د اقتصادي ودې د پیاوړې کیدو په نیت په نښه کړي. له نشه يي توکو او جرمونو سره د ملګرو ملتونو د مبارزې دفتر په ۱۱ ولایتونو (بلخ، هرات، کابل، کندهار، جوزجان، بادغیس، زابل، لغمان، نورستان، دایکندي او غور) کې د نشه يي توکو د ۲۴ مرکزونو له لارې په شمول د اړینو تدارکاتو بسپنې همغږې کړې. په دې کې د خوړو د خوندیتوب لپاره د اسلامي سازمان له خوا د ۶۸ ټنو غنمو وړو د بسپنې برابرونه شامله وه کوم چې په کابل، هرات او کندهار ولایتونو کې د جون له ۲۵ تر ۲۶ نېټې څلورو مرکزونو ته وویشل شول. ټولټال ۱۲۷۵۰ مراجعینو له دغه ملاتړ څخه مستفید شول.

**اووم. د ماموریت ملاتړ**

۶۶.	د جون تر ۳۰ نېټې پورې، په یوناما کې د خالي پوستونو اندازه په ترتیب سره د ۹ سلنې، ۱۰ سلنې، ۴ سلنې او ۴ سلنې د تصویب شویو اندازو په پرتله ۱۱ سلنه د نړیوالو کارمندانو، ۸ سلنه د ملګرو ملتونو د رضاکارانو، ۱۴ سلنه د داخلي مسلکي افسرانو او ۱۱ سلنه د داخلي کارمندانو لپاره وه. د ښځینه کارمندانو تناسب د نړیوالو کارمندانو لپاره ۳۳ سلنه، د ملګرو ملتونو د رضاکارانو لپاره ۳۸ سلنه، د داخلي مسلکي افسرانو لپاره ۱۰ سلنه او داخلي کارمندانو لپاره ۸ سلنه وه. د ملګرو ملتونو د داخلي کارمندانو د رضاکارانو پروګرام د هغو ځوانو افغان میرمنو لپاره یوه خورا مهم چینل کېږي څوک چې غواړي د ملګرو ملتونو له کاري ځواک سره یو ځای شي. څرنګه چې د برحاله چارواکو له خوا د ملګرو ملتونو د داخلي ښځینه کارمندانو پر کار سخت محدودیتونه وضع شوي، ماموریت له هغو پربکړو سره په سمون کې چې د ملګرو ملتونو د هیوادني ټیم له خوا ترسره شوي د هغه ربړې د راکمونې لپاره چې داخلي ښځینه کارمندان ور سره مخ دي، اقدامات ترسره کړي.

**اتم. ملاحظات**

۶۷.	ملګرو ملتونو له ټولو داخلي، سیمه ییزو او نړیوالو فعالینو سره خپل تعامل جاري ساتلی څو د طالبانو د برحاله چارواکو د پالیسي ګانو او د نړیوال تنظیموونکي چوکاټ ترمنځ واټن رالنډ کړي. دغه واټن تر ټولو زیات د طالبانو په هغو پالیسي ګانو کې کوم چې په سخت ډول د ښځو او نجونو حقونه محدودوي، او دغه راز د حکومتولۍ د ټولشموله نظام په نشتون کې احساس شوی. په داسې حال کې چې طالبانو په زیات شمېر سکتورونو کې د ښځو په ضد شدید فرمانونه نافذ کړي، دوي همدارنګه په خصوصي سکتور کې د ښځو ځینو فعالیتونو ته اجازه ورکړې – له دې سره سره د ښځو له خوا پر چلیدونکو سنګارتونونو بندیز یو اندېښمنونکی شاخص دی چې د ښځو په ضد د هغوي د پالیسي ګانو دغه استثناء ښايي له خطر سره مخ شي. د دې دلیل له امله پر موجودو سیاسي ګډونو د بندیز رامنځ ته کول چې هغه له شریعت سره په مغایرت کې دي د طالبانو د حکومتولۍ د طریقې بل شاخص دی.

۶۸.	په داسې حال کې چې طالبان د اقتصادي ځان بساینې د خپل هدف په لور د پرمختګ خبر ورکوي، د دغه هدف تحقق له نړیوالې ټولنې سره باور جوړونې ته اړتیا لري، په ځانګړي ډول هغو بنسټیزو ننګونو ته رسیدګي کول چې بشري مرستو ته د اړتیا، د بدیلو معیشتونو د نشتون، په شمول دې د آپیومو د پخوانیو کرندګرو او ټولنو لپاره، له جګړې څخه د پاتې شونو چاودیدونکو توکو د زیرمې، د ښځو لپاره د راتنګیدونکې ټولنیزې او اقتصادي فضا او د اقلیمي بدلون د اغیزو له امله رامنځ ته شوي.

۶۹.	افغانستان یو له هغو هیوادونو ګڼل کېږي چې د اقلیمي بدلون په وړاندې تر ټولو زیات زیانمنېدونکی ګڼل کېږي، چې له زیاتېدونکې تودوخې، تکراري وچکالیو او له صحرا اوښتو سره لاس او ګرېوان دی. همدارنګه افغانستان یو له هغو هیوادونو ګڼل کېږي چې د اقلیمي بدلون اغېزو لکه د معیشتونو تخریب او پر اقتصادي رغونې فشار ته د رسیدګۍ کمه وړتیا لري. د هیواد د شاوخوا ۶۰ سلنې وګړو معیشت او د خوراکي توکو تولید چې پر للمي کرنې متکي دی، د ورښتونو د بدلون او روانې وچکالۍ له امله له خطر سره مخ دي.

۷۰.	ملګرو ملتونو تر ټولو زیاتو زیانمنېدونکو وګړو ته د بشري مرستې رسونه جاري ساتلې، که څه هم په کمه اندازه دي کوم څه چې د ډونر د تمویل کمې کچې منعکسوي. د بې وزلۍ، خوړو د ناخوندیتوب او د را روان سخت ژمي ننګونې د افغان وګړو مقاومت لا پسې ننګوي. د طالبانو له خوا پر هغو افغان مېرمنو چې د داخلي او نړیوالو نا دولتي ادارو لپاره کار کوي تر بندیز او د ملګرو ملتونو لپاره پر کار کوونکو مېرمنو د سختو محدودیتونو تر وضع کولو وروسته، ملګرو ملتونو له طالبانو سره تعامل جاري ساتلی چې د مرستو په برابرونه او په دوامدار ډول د هغو شرایطو په څارنه کې د کومو له مخې چې مرستې برابرې شوي، د ښځو د فعال دخالت پر اهمیت ټینګار کوي. ملګري ملتونه او د دوي همکارې ادارې باید نوښتګر و اوسي څو د مرستو په برابرونه او د دې یقیني کولو چې مرستې ښځو ته رسیدلي د ښځو دخالت دوام ومومي. زه یو ځل بیا پر برحاله چارواکو غږ کوم چې د داخلي او نړیوالو نا دولتي ادارو لپاره پر افغان ښځینه مرستندویه کارمندانو بندیز بېرته واخلي او پر هغو افغان ښځو چې د ملګرو ملتونو لپاره کار کوي سخت محدودیتونه لرې کړي. زه په بیړنې ډول پر ډونرانو غږ کوم چې خپل ملاتړ بیا نوی او د ژمي تر را رسېدو مخکې د ژوند ژغورنې فعالیتونه زیات کړي.

۷۱.	د تېر حکومت د چارواکو او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو د غړو د روانو صحرایي وژنو، خپلسرو نیونو او توقیفونو او شکنجې او ناوړه چلند راپورونه خورا هېښوونکې دي. زه پر برحاله چارواکو غږ کوم چې په عمومي بخښنه کې ترسره شوې ژمنې او د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې خپل مکلفیتونه مراعات کړي. پر دې سربېره زه له برحاله چارواکو غوښتنه کوم چې د مرګ سزا د کارونې د ممنوعیت په پام کې نیولو سره، د نورو اعدامونو ترسره کول پای ته ورسوي.

۷۲.	ما ملاحظه کړې چې د امنیت د ټینګښت لپاره د طالبانو له خوا دوامداره هڅې ترسره شوي. نن، د وروستیو کلونو په پرتله د افغانستان وګړي له کم شمېر امنیتي پېښو سره مخ دي. له دې سره سره، د ترورېستي عناصرو دوامدار شتون او فعالیتونه تر افغانستان ها خوا د نورو لپاره اندېښنه ګڼل کېږي. بشري حقونو ته له درناوي پرته، په اقتصاد کې کافي وده او د طبیعي ناورینونو په وړاندې مقاومت، د لا زیات افراطیت خطر په ځانګړي ډول د ځوانانو ترمنځ څوک چې د نفوس د پام وړ برخه جوړوي، پاتې دی. زه یو ځل بیا پر برحاله چارواکو غږ کوم چې په ډیالوګ کې دخیل شي او له سیمه ییزو هیوادونو او نړیوالې ټولنې سره همکاري وکړې څو له دغو امنیتي ګواښونو سره مبارزه وکړي.

۷۳.	د بشري حقونو او ټولشموله حکومتولۍ ته د ودې ورکونې، او له ترورېزم، نشه يي توکو او نا قانونه کړنو سره د مبارزې په پار له طالبانو سره زموږ په تعامل کې، موږ باید موږ باید په ګډ غږ خبرې وکړو او ډله ییز عمل وکړو. زه زما د ځانګړې استازې روزا اوتنبایوا تر مشرۍ لاندې د ملګرو ملتونو له ټولو کارمندانو، د هغې له ټیم، د نا دولتي سازمان همکارو ادارو څخه د هغوي د دوامدارې فداکارۍ او په خورا ننګونکو شرایطو کې د استقامت په پار د زړه له کومې مننه کوم.